مطبوعاتي اعلاميه

له سيمه‌ايزو او غربي هېوادونو سره نيږدې سياسي تعامل په دنيا او اخرت کې زيان‌راوړونکې پايلې لري

د ازبکستان يوه لوړپوړي پلاوي د دغه هيواد د بهرنيو چارو وزير، بختيار سعيدوف په مشرۍ افغانستان ته سفر کړی او د افغانستان د حکومت له لوړپوړو چارواکو سره يې پر سياسي، سوداګريزو، ټرانسپورټي او د اړيکو پياوړي کولو اړوندو مسايلو د بحث په موخه کتلي. د دغه سفر پر مهال د ازبکستان د بهرنيو چارو وزير وويل چې ازبکستان تل په نړيوالو ناستو کې د افغانستان ملاتړ کړی او ټينګار يې وکړ چې افغانستان بايد د نړيوالې ټولنې برخه وي.
په وروستيو مياشتو کې له افغانستان سره د سيمې اړيکې زياتې شوې؛ چين، روسيه، ايران، هند او د منځنۍ اسيا هيوادونه د افغانستان د اوسني حکومت له حکامو سره د مثبت تعامل غوښتونکي دي. د حزب التحرير – ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر د سيمې له هيوادونو سره د افغانستان د حکومت مثبت تعامل له غربي هيوادونو سره د نيږدې تعامل پشان خطرناک ګڼي او دا ذهنيت په کلکه تر پوښتنې لاندې راولي چې ګواکې د سيمې له هيوادونو سره له نيږدې اړيکو په سيمه کې د غرب د نفوذ او جيوپوليټيکو لوبو پر وړاندې کار اخيستی شو.
واقعيت دا دی چې د سيمې او د امريکا په مشرۍ غربي هيوادونه د خپلو ملي ګټو په پام کې نيولو سره په بېلو لارو مشترکه اجنډا تعقيبوي. دواړه غواړي چې په افغانستان کې بشپړ اسلام پلی نه شي. غرب او د سيمې دولتونه د افغانستان پر حکومت فشار راوړي چې بهرني مجاهدين محدود، مهار او بلاخره وځپي. غرب او د سيمې دولتونه غواړي افغانستان په اوسني نړيوال نظم کې ادغام شي. په داسې حال کې چې دا نړيوال نظم د يوه خطرناک جال او دام پشان دی چې هر کله يوه اسلامي ډله پکې واک ته ورسېږي او وغواړي چې د دغه نظم د قواعدو له مخې سياست وکړي، پکې ذوبېږي او ورو ورو له خپلې اسلامي داعيې پر شا کېږي. هغه څه چې واقعيت مغشوشوي دا دي چې غرب مستقيماً او د فشار او تطميع له لارې په افغانستان کې خپل سياست پر مخ بيايي؛ خو د سيمې هيوادونه خپلې ګټې په خوږو الفاظو او نرمه لار تعقيبوي.
له بلې خوا، له مسلمانانو او اسلامي ډلو سره د سيمې هيوادونو له سخت چلند څخه له اسلام او مسلمانانو سره د دغو دولتونو او حکامو د دښمنۍ عمق کتلی شو. د ختيځ ترکستان له مسلمانانو سره د چين شديد چلند؛ د چيچن او مرکزي اسيا د مسلمانانو پر وړاندې د روسيې او مرکزي اسيا د جابرو حکامو جنايتونه؛ د هند او کشمير د مسلمانانو پر وړاندې د مودي د هندو دولت اسلام‌ضد سياست؛ د ايران، سوريې، عراق، يمن او فلسطين د مسلمانانو پر وړاندې د ايران د اخوندي رژيم د دښمنۍ سياست لکه لمر روښانه دی چې دا دولتونه په سيمه کې د اسلام او مسلمانانو د لومړۍ درجې دښمن په توګه عمل کوي. نو اړينه ده چې له داسې دولتونو سره له سياسي اړخه نيږدې شو؟ نو يو ځل بيا ټينګار کوو چې د سيمې او غربي هيوادونو سره هر ډول نيږدې او مثبت تعامل نه جبرانېدونکې سياسي تېروتنه ده او اوسنيو حکامو ته د دغه کار له زيان راوړونکو دنيوي او اخروي پايلو خبرداری ورکوو. دا ډول سياسي تعامل څو څو ځله په امت کې تجربه شوی چې په پايله کې يې حکام د اسلام له بشپړ پلي کولو منحرف کړي او د بدنامۍ او ناکامۍ سبب شوی.
اساسي حللاره دا ده چې له دغو دوو کمپونو (غرب او سيمه) يا يوه سره يې د نيږدېوالي پر ځای

په امت کې درېيمه لار وکاږئ. دا کار هغه وخت شونی دی چې پر اسلامي ډلو او حزبونو او د امت پر ظرفیتونو باور وکړئ. په دې کې هیڅ شک نشته چې د افغانستان، پاکستان او منځنۍ اسیا مسلمانان یوازې اسلامي نظام، وحدت او د نبوت پر منهج د خلافت تاسیس غواړي او د دغې سترې پروژې لپاره هر راز قربانۍ ته تیار دي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ ۚ أَتُرِيدُونَ أَنْ تَجْعَلُوا لِلَّهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَانًا مُبِينًا
[نساء:144]
*ژباړه: «ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! د مومنانو پر ځای له کفارو سره دوستي مه کوئ؛ ایا غواړئ چې (په دغه کار) مو د خدای پر وړاندې د ځان په ضد ښکاره دلیل پیدا کړئ!؟»*
د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر